ليکوال: سلام خان نېټه ۱۱-۰٤-۲۰۱۱

# له امريکا سره د ستراتيژيک تړون پر سند
## هراړخيزي خبرې پيل شوې

د افغانستان جمهور رييس حامدکرزي په مشرۍ د ملي امنيت د شورا غونډې د حمل د مياشتی په ۲۱نېټه د افغانستان او امريکا ترمنځ د ستراتيژيکي همکاريو د سند د برابرولو لپاره د تياري په باب هراړخيزي خبرې پيل کړی. د جمهوري رياست د مطبوعاتي دفتر د معلوماتوله مخې: په دې غونډۀ کې چې د يکشنبې په ورځ د جمهوري رياست د مرستيالانو او د يوشمير وزيرانو او د حکومتي چارواکو په ګډون جوړه شوه د ملي امنيت سلاکار ډاکتر رنګين دادفرسپنتا او د جمهوررييس ستر سلاکار ډاکتر اشرف غني د هغه کميسيون په استازيتوب چې د افغانستان د حکومت له خوا د دغه سند په باب د افغانستان د حکومت د هدفونو، تعريفونو او د غوښتنو د برابرولو په مقصد موظف شوي دي، د کميسيون د کار د پرمختګ په اړوند يو ريوټ وړاندې کړ. د ملي امنيت د شورا دغونډې غړو د ريوټ له اوريدو وروسته په دې باب چې دهيواد سياسي، اقتصادي او پوځي ګټو ته په پاملرنې سره د افغانستان او امريکا ترمنځ د ستراتيژي همکاريو د سند په باب د افغانستان د حکومت دريځ بايد څه ډول وي هراړخيزي او اوږدي خبري وکړي. د غونډې په دوام پريکړه وشوه چې موظف کميسيون دې بايد په راتلوونکو لسو ورځو کې دافغانستان له لوري يو سند چمتو کړي چې په هغه کې د ټاکلو شرايطو په چوکاټ کې د افغانستان اوږد مهالو ګټو ته په پاملرنې سره د خلکومشخصي غوښتنې ځای کړي شوي وي. د يادونې وړ ده چې د دغي غونډې په بله برخه کې د امنيتي مرکزونو چاروکو دهيواد دعمومي امنيتي حالت په باب رپوټونه وړاندې کړل چې جمهوررييس د امنيتي حالت د ښه والي لپاره هغوی ته مشخصي لارښووني وکړي,

له يوې مودې راهيسي د افغانستان او امريکا ترمنځ د ستراتيژيک تړون په باب خبرې کيږي خو تراوسه پوري ډېر افغانان نه پوهيږي چې په دې تړون کې به کوم مسايل ځای شوي وي يا دا چې افغانستان به په تړون کې له امريکا څه راز غوښتنې ولري او په مقابل کې به يې د امريکا غوښتنې څه وي.

د امريکا په شان له لوی او مهم هيواد سره ستراتيژيک تړون د ډېرو هيوادونو لپاره ډېر اهميت لري.هند او پاکستان هر يو له ډېرو کلونو راهيسي هڅه کوي چې له امريکا سره داسي يو تړون لاسليک کړي ځکه چې د دغسي يوه تړون د لاسليکېدو په صورت کې به امريکا مکلفه وي مقابل لوري ته يولړ دايمي امتيازونه ومني.

د جمهوري رياست په خبرپاڼه کې نه دي ويل شوي چې افغانستان په سند کې له خپلې له امريکا دقيقاً څه ډول غوښتنې لری خو وايي : د ملي امنيت شورا د غونډې غړيو د راپور له اورېدو وروسته، په دې باب چې د امريکا او افغانستان ترمنځ د ستراتيژيکو همکاريو د سند په برخه کې به د هيواد سياسي، اقتصادي او پوځي ګټو ته په پام سره د افغانستان د حکومت دريځ بايد څرنګه وي، مفصلې او هراړخيزې خبرې وکړې.

ګومان کيږي چې په دې سند کې به په افغانستان کې د امريکا د دايمي اډو او په مقابل کې يې له افغانستان سره د امريکا د دايمي مالي، سياسي او پوځي مرستو موضوع شامله وي.

همدا رازولسمشر حامد کرزی د دوشنبی په ورځ په يوه خبری ناسته کی خبريالانو ته وويل  چې د امريکا متحده ايالاتو ورته له افغانستان سره د ستراتيژيکو اړيکو په اړه يو سند سپارلی او افغان حکومت د دغه سند په بشپړه مطالعه  بوخت دی، ولسمشر کرزي که څه هم د امريکا له لوري د ستراتيژيکو اړيکو په باب د لېږل شوي سند بشپړ جزئيات ور نه کړل ولې وې ويل چې دا سند دوه اوونۍ وړاندې ورته سپارل شوی او لا هم مطالعه يې روانه ده.

جمهور رئيس د دوشنبی په ورځ په يوه خبری غونډه کی په خپلو ځرګنودونو کی خبريالانو ته وويل: چی تېره ورځ د حکومت د لوړ پوړو چارواکو په حضور يې دا سند مطالعه کړی او د افغانستان په ګټه ترې نقطې يې راوستې او له وړانديزونو سره مل به يې بېرته د امريکا حکومت ته وسپاري، ترڅو د ستراتيژيکو اړيکو په اړه مذاکرې دوام وکړي.

هغه وويل افغانستان خپلې ګټې لټوي او امريکا بايد د دوی غوښتنې ومني، جمهور رئيس وويل له تېرې اوونۍ راهيسې د دې سند په اړه يې مسلسلې ناستې کړي او د منفعتونو تثبيت يې کړی دی.

جمهور رئيس حامد کرزی: "شرايط مو ډېر پرې ايښي دي،  ښه مو پرې لاسونه او پښې تړلي دي، ښه شرايط مو ايښي، لکه څومره پيسې غواړو،  افغانستان سره مرستې څنګه وشي، په کومو شرايطو دوی دلته د فعاليت اجازه لري، دا د عساکرو خپلسري يې څنګه کيږي دا څنګه بندوو، په افغانستان کې بهرنيو ځواکونو قانونيت او ټول هغه شرايط چې زمونږ ګټې پکې وي، زمونږ د منطقې حالات خصوصا له ټولو مهمه له امريکا سره د ستراتيژيکو اړيکو په اړه اول شرط د سولې راوستل دي"


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

جمهور رئيس وويل په دربيو مياشتو کې د ننه به عنعنوي لويه جرګه را وغواړي او جرګه به بيا د دغو اړيکو په باب پرېکړه کوي، هغه وويل که دا اړېکې د افغانستان په ګټه وي نو نوم به يې په تاريخ کې ښه ياديږي او که نه سر لا دا اوسه داسې څه نه کوي چې دا اړېکې د افغانستان په زيان تمامې شي.
جمهور رئيس حامد کرزی: "که د افغانستان شرايط ومنل شي او دا ستراتيژيکه اړيکه په بشپړه توګه د افغانستان له شرايطو او منفعتونو سره برابره وي طبعا چې د افغانستان په ګټه به وي، دا د حکومت دنده چې دا منفعتونه تثبيت کړي او په امريکا يې قبول کړي بيا به دا د افغانستان خلکو ته د لويې جرګې له لارې وړاندې شي، د افغانستان خلک به بيا دا يا تائيد کړي او يا به يې رد کړي د افغانستان خلک به پرې پرېکړه وکړي.

پای

. "salam jan" <salamjn@yahoo.com>


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ